تقویت صادرات: نیمی از رشد اقتصاد آلمان در دهه های گذشته به صادرات این کشور نسبت داده می‌شود. مازاد تجارت خارجی با ۱۸۸ میلیارد یورو (۲۴۳ میلیارد دالر)، ۷ درصد تولید ناخالص داخلی این کشور را تشکیل می‌دهد که بدین ترتیب، صادرات قوی و مازاد تجاری چشمگیر نماد قدرت اقتصادی آلمان محسوب می‌گردد. به همین منوال سیاست های تشویقی جدی برای تقویت صادرات در این کشور طی ده ها سال دنبال گردیده است.

کارخانه‌های آلمان به طور سنتی در سه حوزه بزرگ ( ابزار، مواد شیمیاوی و موتر های تیزرفتار توسعه چشمگیر داشته اند. ترکیب این سه حوزه صنعتی، هنگامی که اقتصادهای نوظهور ( از جمله چین) شکوفا می‌شدند، در تقویت صادرات این کشور بسیار مؤثر تمام شده است. تقریباً نیمی از مجموع صادرات آلمان و همچنین ۷۲ درصد از صادرات این کشور به چین را کالاهای ترابری و ماشین آلات با ارزش افزوده تشکیل میدهد.

ارتقای ظرفیت کارگران: ارتقای بهره وری کارکنان و کارگران یکی از موضوعات مورد توجه دولت آلمان بوده است. این مسئله زمانی بیشتر مورد توجه قرار گرفت که بحران مالی ۲۰۰۸ غرب باعث بروز مشکلات جدی در امریکا و اروپای غربی شده و شرکت های آلمانی به سبب کاهش تقاضا بیکار شده بودند، ولی این شرکت ها به جای اخراج کارکنان و کارگران خویش، آنها را به دوره های آموزشی اعزام کردند و در واقع به عوض کار و تولید، به آموزش و ارتقای مهارت و ظرفیت مسلکی به کارکنان خود حقوق پرداخت می کردند. همین امر باعث شد تا پس از عبور نسبی از بحران و آغاز تولید، کارکنان و کارگران با مهارت و بهره وری بالاتری مشغول به کار شوند.

ارتقای سطح تکنالوژی در صنایع: از دیگر سیاست های آلمان در مسیر پیشرفت اقتصادی، تاکید بر مهارت در تکنالوژی صنایع بوده است.

سیاست های پولی و مالی منسجم: چون آلمان در سال های پس از جنگ دوم جهانی از نرخ تورم بلند رنج می برد، به جهت آرام کردن فضای اقتصادی و بهبود شرایط کسب و کار اقدام به اصلاح نظام پولی خود نموده و با تغییر مقیاس پول از مارک رایش به مارک آلمان، این تورم سنگین مهار شد. در چنین فضایی شرایط برای سرمایه گذاری و تولید منطقی تر شد.

مدیریت واردات: هر چند اقتصاد آلمان در دوره شکوفایی نوین خود اقدام ویژه ای برای کنترول واردات نداشته و بخش مهمی از پایه های تولیدی آن در دهه های قبلی اتفاق افتاده است، این کشور در دهه های قبلی با کاهش واردات شرایط را برای تقویت تولید ملی و ارتقاء صادرات فراهم نمود.

**بخش فرهنگی در راستای تقویت تولید ملی**

ارزش دادن به کار: فرهنگ کار در میان جامعه آلمانی ها به یک ارزش تبدیل شده است. در میان مردم آلمان کار معیار اخلاقی دارد، به این معنی که به صورت احساس وظیفه شدید و محکمی درآمده است. در این فرهنگ کار یک وظیفه است و نه فقط یک اشتغال. کارگر آلمانی غرور و افتخار سنتی و شغلی خود را درکارکردن می یابد و آن را به منزله نوعی امتیاز محسوب می کند و همه چیز را از دیدگاه کار ارزیابی می کند.

مدیریت و روح ابتکار و اختراع: یکی دیگر از ویژگی های فرهنگی جامعه آلمانی، حاکمیت روحیه ابتکار، خلاقیت

»

و اختراع است. در واقع ذات و فرهنگ اقتصاد ریشه در فهم نخبگان این کشور دارد، به نحوی که چرخش اصلی پیشرفت اقتصادی این کشور را طی دهه های اخیر تشکیل داده است. نتیجه این امر تقویت صادرات آلمان شد که به ارتقاء قدرت اقتصادی آن کمک جدی کرده است.

استعداد سازمان دهی: سازماندهی و نظم یکی از مهم ترین مولفه های قدرت واقعی در آلمان، مخصوصاً در قلمرو فعالیت های اقتصادی است. ممکن آلمانی ها در این زمینه از شهرت جهانی برخوردار باشند. گرایش های عمومی و عمیق جامعه آلمانی برای استقرار نظم و سازماندهی مناسب امور از خصلت های عمومی روانی و فرهنگی آلمانی ها است.

پس انداز و سرمایه گذاری: سرمایه گذاری های بخش خصوصی نقش مهمی در پیشرفت اقتصادی آلمان بعد از جنگ داشته است. این منابع سرمایه ای از طریق پس اندازهای مردم و سپس سوق دهی این منابع به مسیر تولید شکل گرفته است. در مجموع آلمانی ها به ذخیره کردن و صرفه جویی گرایش دارند. آلمانی ها از تاریخ گذشته خود آموخته اند که با قناعت زندگی کنند و تا هر اندازهٔ ممکن ثروتمند شوند. با افزایش سطح درآمد عمومی، مردم آلمان آموختند که چگونه بیشتر پس انداز نموده و بر اثر افزایش آهنگ پس انداز، چگونه بیشتر سرمایه گذاری نموده، پیشرفت های سریع اقتصادی را پیموده و ثروت خود را افزایش دهند.

شیوه صحیح و درست مصرف: آلمانی ها در مصرف نیز از الگویی به نسبت مناسب پیروی می کنند. علاوه بر کالاهای شخصی و صنعتی، حتی در مصرف منابع عمومی نیز آلمانی ها رویه مناسبی داشته و اسراف و بی احتیاطی نمی‌کنند. حتی در مصرف آب نیز بسیار محتاط میباشند.

فرهنگ حمایت از تولید ملی: اگرچه آلمان در حال حاضر سیاست های جدی را برای کنترل واردات اتخاذ نمی کند، اما بطور دایم بیلانس تجارت آن مثبت است. این بدان معناست که مجموعه سیاست های اقتصادی این کشور و نیز فرهنگ اقتصادی توده مردم به نفع تولید و صادرات و علیه واردات عمل می کند. به طور مثال طی سال های بحران اقتصادی غرب طی سالهای ۲۰۰۸ تا ۲۰۱۰ مشاهده می شود که مردم آلمان از مصرف کالاهای خارجی که گاهی دارای اختلاف قیمت و کیفیت فاحش نیز هستند، به هدف کمک به تولیدکننده گان داخلی خودداری می کنند.

## خلاصه و نتیجه گیری

آلمانی ها در مسیر پیشرفت اقتصادی خود، به تقویت تولید ملی توجه کرده اند، عمده ترین دلیل پیشرفت مردم آلمان مسئولیت پذیری و حس وطن دوستی شان بوده و با درنظرداشت قبول فرهنگ حمایت از تولیدات داخلی و صادرات، برعلیه واردات عمل کرده و اشتغال، کار و کار کردن در جهت بهبود وضعیت زنده گی و رسیدن به رفاه اجتماعی و اقتصادی را یک وظیفه میشمارند که این امر بین مردم این کشور به فرهنگ تبدیل شده است. بادرنظرداشت مسیر های پیشرفت اقتصادی آلمان در می یابیم که کشور ما نیاز به همدیگر پذیری و حس وطن دوستی دارد تا تمام اتباع کشور مسئولیت خویش را ادأ نموده و کشور را به اوج بلند شکوفایی برسانند.▣

منابع:

http://www.fardanews.com/fa/news

http://www.shafaf.ir/fa/news

Bloomberg

# اقتصادي خبرونه

## پکتیا کې د صنعتي پارک زر جریبه ځمکه پر سوداګرو ویشل کیږي

په پام کې ده چې په پکتیا کې ډېر ژر د صنعتي پارک زر جریبه ځمکه پر سوداګرو وویشل شي او دا د سوداګرو هڅول دي، څو په دې ولایت کې پانګه اچونه ډیره کړي.

د پکتیا د سوداګرۍ او صنایعو خونې رئیس نصیر عالمیار د ۱۳۹۶ کال د چنګاښ په دولسمه ویلي ول چې صنعتي ځمکې ته د لاسرسي په موخه تر دې مهاله ۴۰۰ سوداګرو خپل غوښتن لیکونه د یاد ولایت سوداګرۍ خونې ته سپارلي دي.

ښاغلي عالمیار زیاته کړې ده چې د پکتیا سوداګرو ته په صنعتي پارک کې د ځمکې ویش به سلګونه کسانو ته د کار لارې چارې برابرې کړي.

نوموړې دغه راز ټینګار کړی چې په دې سره به په پکتیا ولایت کې د کورنیو تولیداتو صنعت وده وکړي او پانګوال به وهڅوي چې د پکتیا ولایت کې پانګه اچونې ته زور ورکړي.

سرچینه: آزادي راډیو ۱۲/۴/۱۳۹۶

## د سالنګ نوي تونل لپاره د ۱۹ میلیونو ډالرو پروژه لاسلیک شوه

افغان دولت له یوه استرالیایي شرکت سره د سالنګ د نوي تونل د مطالعې او ډیزاین تړون لاسلیک کړ. د دې پروژې لګښت چې څه باندې ۱۹ میلیونه ډالره کیږي د آسیایي پراختیا بانک او جاپان له خوا ورکول کیږي.

د سالنګ د نوې لارې لومړنۍ مطالعه په ۲۰۱۲ میلادي کال کې شوې وه، خو دا دی نژدې پنځه کاله وروسته یوه استرالیایي شرکت دې ته چمتو شوی، چې د دې لارې ارزونه او ډیزاین به تر راتلونکو ۲۶ میاشتو نهایي کړي. د تړون له مخې د استرالیا سمیک شرکت به غوره شوې درې لارې تر ارزونې لاندې ونیسي او تر ټولو لنډه، اسانه او اقتصادي لاره به یې پلي کیدو پړاو ته وړاندې کوي.

د ټولګټو وزیر محمود بلیغ په وینا د سالنګ د نوي تونل د تخنیکي مطالعې او ډیزاین پروژه نږدې ۲۰ میلیونه ډالر لګښت لري. او دا استرالیایي شرکت به په ۲۶ میاشتو کې درې غوره شوي مسیره په هر اړخیز ډول مطالعه کوي، د دغو له ډلې به هغه مناسبه، لنډه او ارزانه لاره وروستی کوي، دغه شرکت به د تدارکاتو پړاو لپاره د پروژې تخنیکي اسناد هم چمتوکړي او له «

هغه وروسته به پروژه د داوطلبی پړاو ته ځي او د جوړېدو چارې به يې پيلېږي.

د ټولګټو وزارت ټينګار کړی چې د هېواد د شمال او جنوب د ننبلولو لپاره د سالنګ د نوې لارې سربيره د سالنګ پخوانۍ لاره هم بيرته رغوي او دغه راز هڅه کيږي، چې د دوشي - باميان او خاواک - خنجان لويې لارې هم ورغوي چې شمال ته د لېږد رالېږد ښې او لنډې لارې بلل کيږي.

سالنګ اوسنۍ لاره شاوخوا پنځوس کاله وړاندې د محمد داود خان د صدر اعظمی پر مهال جوړ شوی چې ورخ کې د ۲۵۰۰ موټرو د تګ راتګ وړتيا لري، خو اوس هره ورخ پر دې لارې څه باندې دولس زره واړه او لوی موټر تګ را تګ کوي.

سالنګ د افغانستان له ستراتيژيکو لارو دی چې کابل له شمالي ولايتونو سره ننبلوي او د جنوبي او منځنۍ آسيا ځمکنۍ سوداګري هم له همدې لارې کيږي.

بي‌بي‌سي/ کابل د ۱۳۹۶ کال د چنګاښ ۱۷

**امضای هشت توافقنامه اقتصادی توسط روسای جمهور افغانستان و ترکمنستان**

رئیس جمهور افغانستان با همتای ترکمنستانی اش در زمینه های حمل و نقل بین‌المللی، اجرای بهتر پروژه‌های زیربنایی تاپی و توتاپ به توافق رسیدند.

به اساس خبرنامه سفارت افغانستان در ترکمنستان، جلالتماب داکتر محمد اشرف غنی رئیس جمهور افغانستان که به تاریخ ۱۱ سرطان ۱۳۹۶ به ترکمنستان سفر کرده بود، در دیدار با قربان قلی بیر محمدوف رئیس جمهور ترکمنستان در مورد گسترش همکاری در زمینه حمل و نقل، نفت و گاز، صنایع کیمیایی، صنایع نساجی، صنایع فرش، زراعت و دیگر بخش‌ها توافق کردند.

روسای جمهور هر دو کشور بر علاوهٔ پروژه‌های انرژی و پروژه‌های حمل و نقل، بر اجرای موفقانه‌ای پروژه‌ی تاپی (TAPI) که در آن چهار کشور ترکمنستان، افغانستان، پاکستان و هند شامل است، تأکید کردند.

در خبرنامهٔ سفارت افغانستان در ترکمنستان آمده است که یک توافقنامه همکاری علمی و آموزشی بین پوهنتون جوزجان جمهوری اسلامی افغانستان و پوهنتون دولتی مختم‌قلی ترکمنستان هم به امضا رسیده است.

پروژهٔ تاپی از پروژه‌های است که تنها برای افغان ها نه، بل برای کشور های ذیدخل در این پروژه کار ایجاد خواهند کرد و از مضایای اقتصادی این پروژه مستفید خواهند شد.▣

منبع: خبرنامه سفارت افغانستان در ترکمنستان



# د کونړ پر سیند

## د برېښنا بند جوړول به برېښنايي اړتیاوې ختمې کړي

د شانګهای غونډې په څنډه دولتي چارواکو د چین هېواد له استازو سره د کونړ پر سیند د برېښنا د بند جوړولو پروژه لاسلیک کړه. ولسمشر جلالتماب محترم محمد اشرف غني له خپل چینايي سیال شی جین پینګ سره د ۱۳۹۶ هجري لمریز کال د غبرګولي په ۱۹مه په قزاقستان کې ولیدل او د سیمه ایزې اقتصادي همکارۍ پر پیاوړتیا د ټینګار ترڅنګ یې له شیرخان بندر څخه تر هراته پورې د اورګاډي لیکې او د کابل-

کونړ پر سیند د برېښنا بند جوړولو په برخه کې دوه هوکړه لیکونه لاسلیک کړل.

د چین ولسمشر له افغانستان سره تل د ښو اړیکو په پراختیا ټینګار کړی دی او په دې ناسته کې زیاته کړې ده چې د اورګاډي پټلۍ، د بندونو او د برېښنا د پروژې په پلي کېدو سره به د چین او افغانستان سوداګریزې اړیکې نورې هم پراخې شي.

چین هېواد له کلونو کلونو راهیسې له افغانستان سره خپلې اړیکې په ښه فضا کې ساتلي او تل یې هڅه کړې چې له افغانستان سره د سوداګریزو اړیکو د پراختیا په موخه په افغانستان کې بیلابیلې اقتصادي پروژې ترسره کړي چې له دې ټولګې څخه د کابل تورخم سړک کریړول او مس عینک ترون یادونه کولی شو.

د دې هوکړه لیکونو پربنسټ به د کونړ په اوبو د برېښنا پروژې د سروې او طرحې کار د چینايي کمپنۍ له خوا

»

اجراء او د شپږو میاشتې په ترڅ کې به یې د لومړنۍ سروې کار بشپړ شي او د دې ترڅنګ له شیرخان بندر څخه تر هراته پورې د اورګاډي پټلې به د یوه کال په اوږدو کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

مخکې تردې افغانستان په پینځو سترو پروژو کې د چین او پاکستان د همکارۍ غوښتنه کړې وه، چې په دې پروژو کې د پټلۍ غځول: کابل- پیښور، کندهار – چمن، او هلمند- بارامچه ترمنځ به پرې اورګاډي ټرانزیټ مال لیږدوي او د کونړ سیند د بریښنا بند جوړولو او اقتصادي همکارۍ پیاوړتیا وو، چې د شانګهای غونډې په څنډه کې د چین هېواد د دې دوو هوکړه لیکونو په لاسلیک سره د افغانستان غوښتنې ته مثبت ځواب ورکړ.

د دې پروژې په بشپړېدو سره به له یوې خوا پرمختګ ته لاره هواره شي او له بل پلوه به افغانستان او سیمه کې د ګډو همکاریو ترڅنګ د سولې او ثبات په ټینګښت مثبته اغیزه وکړي.

د بریښنا او انرژۍ وزارت هم هیله څرګنده کړې چې د کونړ پرسیند د بریښنا بند جوړول ۱۲ سوه میګاواټه بریښنا ظرفیت لري، چې د دې بند په جوړېدو سره به د انرژۍ په برخه کې د افغانستان ډېرې اړتیاوې بشپړې شي او د مشرقي ولس لپاره به د کار زمینه برابره شي او د بې کارۍ په له منځه وړلو کې هم مثبت اغیز وشیندي.

دا په داسې حال کې ده چې افغانستان د اړتیا وړ اویا په سلو کې برېښنا له مرکزي آسیا څخه واردوي، خو د افغانستان د کالې ۱۸ میلیارد متر مکعب اوبه پاکستان او د دې ترڅنګ ۳۴ میلیارد متر مکعب اوبه پرته له کومې ګټې ایران ته روانې دي.

افغانستان د اړتیا وړ برېښنا د منځنۍ آسیا له څېنو هېوادونو ترلاسه کوي، د اوبو او انرژۍ وزارت وایي، د خپلو اوبو د مهارولو لپاره د امنیت او ښه مدیریت ترڅنګه له څېنې خصوصي شرکتونو سره تړونونه لاسلیک کړي دي.

د سلما او کجکی بند ترڅنګ د کونړ د سیند پر سر بند جوړول به، لږ ترلږه منځنۍ آسیا ته د افغانستان بریښنایي احتیاجات ختم کړي، ځکه د کونړ پر سیند د بند جوړولو وروسته افغانستان کولی شي ګاونډیو هېوادونو ته بریښنا صادر کړي.

د افغانستان دولت هوډ لري چې د انرژۍ د تولید او همدا ډول د ځمکو د خړوبولو په برخه کې پانګه اچونه چټکه کړي، ځکه دا دوه برخې کولي شي افغانستان ځان بساینې او پرمختګ ته ورسوي.

که چیرې د افغانستان دولت وکولی شي دا اوبه کنټرول کړي هم به افغانستان د غلې له پلوه ځان بساینې ته ورسیږي او هم نور د سیمې هېوادونو څخه د بریښنا د واردولو اړتیا پای ته ورسیږي. افغانستان یو کرنیز هېواد دی او د کرنې پرمختګ یې لارې چارې برابروي چې د بزګرو اقتصاد پیاوړي او د خپل وطن د سمسورتیا او آبادولو لپاره لاس په کار شي.

د رسنیزو راپورونو پربنسټ په هېواد کې د بیکارۍ نرخ هم خورا لوړ دی، نو لدې امله که چیرې د کونړ پرسیند د بریښنا بند کار پیل شي له یوې خوا به بریښنایي ستونزې لرې کړي او له بل پلوه به د بیکارۍ په له منځه وړلو کې مثبت اغیز وکړي.▣

سرچینې:


1. https:www.sputniknews.com
2. www.ariaye.com
3. www.Mosazaifacebook.com
4. www.bbc.com
5. *Mof.gov.af*
6. *Media analyst speech*



# په مالیزیا کې د اسلامي شتمنیو د مدیریت لیوالتیا

که څه هم په مالیزیا کې اسلامي مالي چارې ډېرې مشهورې دي، خو د یو نړیوال مرکز په توګه د دې هېواد د کمزوره ودې په اړه اندېښنې شتون لري. د دې ننګونو د له منځه وړلو لپاره قانون جوړونکو خپلې هیلې د شریعه مالي مرستو او د شتمنیو په مدیریت پورې تړلې دي.

مالیزیا د حکومتي او قانوني ملاتړ او د بازار د نوښت له پلوه د اسلامي تمویل (مالي چارو) په برخه کې نړیوال مرکز پاتې شوی دی، خو د دې مرکز ځینې ګڼون وال بیا استدلال کوي چې د دې بازار پرمختګ هومره چټک نه دی، څومره چې له هېواده بهر ترې تمه کېږي. د اسلامي مالي چارو او شتمنیو د مدیریت یوه نوې طرحه چې ۲۰۱۷ میلادی کال په پیل کې د مالیزیا د بیه

لرونکو پاڼو د کمیسیون (Securities Commission) لخوا جوړه شوې وه، د دې سکتور د ودې لپاره یې نوې لارې هوارې کړې دي. د دې کمیسیون مشر رنجیت اجیت سینګهـ وایي ″مونږ اوسمهال د اسلامي مالي سرچینو (پیسو او شتمنیو په مدیریت باندې ډېر غور کوو. مونږ غواړو چې په دې برخه کې د زیاتې ودې شاهدان ووسو او سربېره پر »

دې په دې برخه کې له صنعت او نورو پالیسي جوړوونکو سره کار کوو څو ورته لا زیاته وده ورکړو". مالیزیا ته د نړیواله اسلامي مالي سرچینو (پیسو) راجذبول، د شتمنیو د مدیریت خدمتونو پراخه کول او له ټولنیزه معتبره پانګې اچونې (SRI) ملاتړ کول د اسلامي مالي چارو او شتمنیو د مدیریت د نوې طرحې د جوړیدو موخې دي.

**په مالیزیا کې د نورو پرمختګونو هیلې**

په مالیزیا کې اوس مهال ۲۰ ډوله بشپړ چمتو اسلامي مالي سرچینې شتون لري. د ښاغلي سینګهـ په وینا د حکومت د تقاعد د مالي تمویل (پیسو) او د کارکوونکو د احتیاطي مالي تمویل په اړه پریکړې په تدریجي ډول د ټولې پانګونې ۴۵ سلنه له شریعت سره سم محصولاتو لپاره ځانګړي شوي دي چې دا کار د پورته ۲۰ ډوله اسلامي مالي سرچینو شمېر زیاتولی شي.

په مالیزیا کې د بی ان پي پاریباس بانک (BNP Paribas) د پانګې اچونې د شریکانو(Investment Partners) اجرائي رئیسه انجیلا چین شارپ وایي له کومه وخته چې بهرنی مالي سرچینې (پانګې) بازار ته راننوتي دي، مالیزیا د بی ان پي پاریباس بانک د پانګونې د شریکانو اسلامي مرکز ګڼل کیږي چې د اسلامي مالي چارو او د شتمنیو د مدیریت نوې طرحه به د دې سکتور د مالي چارو کړنې لا هم بشپړې کړي.

د ابردین د اسلامي شتمنیو د مدیریت کمپنۍ اجرایي رئیس ګیرالډ امبروس د اسلامي شتمنیو په مدیریت کې بالقوه امکانات ویني. نوموړی وایي "که چیرې مسلمانان ټاکنې وکړي، نو زه باور لرم چې ډېری مسلمانان به خپل مالي وجوه له شریعه سره سم مدیریت کړي. د دې ترڅنګ مونږ له شریعت سره سم د مالي پلان د جوړیدو په برخه کې د پرمختګ شاهدان یو. دا یو لوی بازار دی چې د هېواد دننه او بهر دواړه رانغاړي".

**په دې هېواد کې د بهرنیو پانګه اچوونکو د ګډون پراختیا**

په مالیزیا کې د مالي تمویل (مالي چارو) د مدیرانو یو ګډ هدف د بهرنیو پانګه اچوونکو د ګډون پراخوالی دی. د خدمتونو د عرضې له پلوه د صکوکو بازار (اسلامي پورپاڼو) د هانګ کانګ، بریتانیې او د سویلي افریقا په ګډون د یو شمېر نویو نړیوالو پور اخیستونکو کوربه توب کړی دی. د Maybank د اسلامي بانکدارۍ برخې مرستیال نور شهریزان سلیمان وایي "بالقوه پور اخیستونکي او صادروونکي په دې پوهیږي، که چیرې د شریعې مطابق محصول انتخاب کړي نو د پانګه اچوونکو په یوه لویه پانګونه کې شاملیږي او په دې کار سره به د سیالیت کچه هم زیاته شي".

ښاغلی امبروس وایي چې د نړیوالو پانګو اچوونکو ترمنځ تقاضا زیاته نه ده او لامل یې د اسلامي مالي تمویلي پارامیټرونو په شرحه کې د لږو نړیوالو اړخونو راټولیدنه ګڼل کیږي.

که څه هم آغلې چین شارپ له دې خبرې سره موافقه نه ده او وایي "د پورتوفولیو د مدیرانو په توګه مونږ کولای شو چې د مشتریانو له بیلابیلو شرایطو سره ځان عیار کړو او د هغوی لپاره د حل لارې طرحه کړو". نوموړې زیاتوي "د بازار د ګډونوالو روزل ډېر مهم دي".

سربېره پر دې، ځیني بازارونه د مالیزیا په شان د اسلامي مالي چارو د پراختیا لپاره ژمن دي. آغلې شارپ وایي "د مالیزیا حکومت د اسلامي مالي چارو په دودولو کې لوی رول لوبوي او د قانون له جوړوونکو سره یو ځای کار کوي څو د

»

بازار د فعالو خواوو په اړتیاوو باندې پوه شي. د مقررو له موجودیت سره سره مونږ لا هم د بازار د فعالو خواوو له کمښت سره مخ یو څو د اسلامي پانګې بازارونو ته وده ورکړو".


د بهرنیو پانګه والو د ګډون د زیاتولو په موخه د ابردین د اسلامي شتمنیو مدیریت په وروستیو کې د ابو ذبي په ښار کې جواز ترلاسه کړی څو حلته شرعي محصولات وړاندې کړي. په ورته وخت کې آغلې چین شارپ تمه لري چې په بهر کې د خپلو نویو پانګه ایزو بازارونو د پراختیا لپاره به یوه طرحه اعلان کړي، څو په اندونیزیا کې اسلامي پانګې اچونې ته تقاضا زیاته شي.

د SC اداره په دې باور ده چې اسلامي تمویل (مالي چارې) د دوامداره او مسؤلې پانګې اچونې په پیاوړي کولو سره وده موندلای شي. ښاغلی سینګه وایي "مالیزیا په آسیا کې د دوامدارۍ او مسؤلې پانګې اچونې د ټولنې لخوا داسې ارزول شوې چې په آسیا کې د دې ټولنې تر ټولو لوی مالي ونډه لرونکی هېواد ګڼل کیږي. د اسلامي تمویل او د دوامداره او مسؤلې پانګې اچونې ترمنځ د اړیکو په پام کې نیولو سره، مونږ د دوامدارۍ او مسؤلې پانګې اچونې یو شرعي اډانه طرحه کړې چې ډېر ژر به معرفي شي". په واقعیت کې اسلامي مالي تمویل داسې غوښتنه کوي چې پیسې د ټولنې د خوندیتوب او ساتنې لپاره وکارول شي.

د مالیزیا د خپلواکه شتمنیو صندوق چې خزانه نشنل برهاد نومیږي، په ۲۰۱۵ میلادي کال کې د لومړي ځل لپاره د دوامدارۍ او مسؤلې پانګې اچونې صکوک چاپ کړ. اوس د Maybank یو وقف (خیریه صندوق) چې نړیوال بشردوستانه صندوق دی، جوړوي چې د کډوالو اوسنی کړکیچ تر کتنې لاندې نیسي. دا صندوق چې د Maybank له لوري مدیریت کیږي، د هغو موادو سره سم اداء کیږي چې د کډوالو د یو ناځرګنده شوي شورا لخوا ټاکل شوي دي.

د نړیوالو بازارونو په منځ کې د مالیزیا موقعیت اوس نور هم پیاوړی شوی چې د بیه لرونکو پاڼو د کمیسیون نړیوال سازمان لپاره یې خپل لومړنی سیمه ییز دفتر د کوالا لامپور ښار ټاکلی دی. ښاغلی سینګه وایي "تر ټولو لومړی باید په ظرفیت لوړولو، تخنیکي مرستې او د پانګه ایزو بازارونو په تقویه کولو باندې تمرکز وشي. دا بهیر د سیمې له تمویلي اړتیاوو سره مرسته او د نړیوالو پانګه ایزو بازارونو په خبرو اترو کې آسیا ته زیات رول ورکولای شي".▣

سرچینه: د بانکر مجله ۳/۰۴/۲۰۱۷



# دور جدید روابط تجاری چین و امریکای لاتین

اعلامیۀ اخیر چین مبنی بر حمایت از جهانی شدن تجارت، روزنۀ جدید و امید بخش را برای امریکای لاتین در جهت استفاده از سهولت‌های موجود در چین مثل زمینۀ سرمایه گذاری‌های گسترده، تعرفه‌های پائین گمرکی و صادرات وافر باز نموده است.

طوریکه به نظر می‌رسد، ایالات متحدۀ امریکا می‌خواهد از نقش رهبری تجارت جهانی کناره گیری کند، این در حالیست که چین برای پُر نمودن این خلا دست و پاچه بر زده است. اگر چه اظهارات بیجنگ در حمایت از جهانی شدن تجارت برای بعضی کشورها متعجب کننده است، اما برای تعداد دیگری مخصوصاً امریکای لاتین درخور توجه قرار گرفته است.

چین در حال حاضر بزرگترین خریدار کالاهای تولیدی امریکای لاتین بشمار رفته و مصرف کنندگان کالاهای تولیدی این کشور در چین رو به افزایش است. امریکای لاتین در نظر دارد تا در اقلام صادراتی خویش ارزش افزودۀ بیشتر را شامل سازد، مثلاً علاوه بر صادارت مس که از جمله اقلام صادراتی سنتی این کشور به حساب می‌رود، شراب چیلی را نیز شامل سازد.

این در حالیست که چین در تلاش است تا شرکت‌های خود را بیشتر جهانی سازد و در این راستا برای امریکای لاتین فرصت‌های زیادی در بخش مدرن سازی و انکشاف زیربناها وجود دارد که این عمل از روابط خوب چین و امریکای لاتین ثمر می‌گیرد. پروژۀ خط آهن که توسط بیجینگ ساخته می‌شود، برازیل را منحیث تولید کنندۀ سویا با اقیانوس آرام یعنی کشور همجوار آن پیرو، وصل می‌کند. چین در سال ۲۰۱۵ اظهار داشت که ارزش این پروژه ۱۰ میلیارد دالر امریکایی تخمین شده که تا اکنون بزرگترین تعهد فعالیت‌های اقتصادی در بخش زیربنا از سوی این کشور بوده است. در صورتیکه این پروژه تکمیل گردد، بدون شک یک راه اصلی را در شبکه‌های منطقوی با نیازمندی‌های فراوان شکل داده و برای واردات چین مسیر خوبتر را ایجاد می‌کند.

### فرصت‌ها و چالش‌ها

رویدادهای اخیر علی الرغم فراهم آوری فرصت‌ها و خوش بینی‌ها، با یک سلسله تهدیدها و نگرانی‌ها به همراه بوده است. نگرانی‌های سیاسی و رکود اقتصادی در برخی از نقاط امریکای لاتین علاقمندی چین را در قسمت سرمایه گذاری کاهش داده و در عین حال کاهش نیازمندی‌های این کشور برای مواد خام توأم با کاهش قیم اجناس، حجم معاملات تجاری امریکای لاتین را کاهش داده است.

طبق تحقیق جدیدیکه از طرف بانک انکشاف داخلی امریکا صورت گرفته، »

معاملات تجاری میان چین و امریکای لاتین و کشورهای کارابین در سال ۲۰۱۶ به ۲۴۱.۳ میلیارد دالر امریکایی رسیده که این رقم بگونۀ مطلق مبلغ بزرگی را نشان می‌دهد و میرساند که روابط تجاری بین این کشورها طی چند دهۀ اخیر تا چه اندازه رشد نموده است. این در حالیست که این رقم نسبت به سال گذشته تقریباً ۱۱ درصد کاهش یافته است.

بانک انکشاف داخلی امریکا چگونگی رشد و تغییرات در روند معاملات تجاری میان منطقه و چین را از سال ۱۹۶۰ بدینسو پیگیری می کند از زمانیکه این رقم فقط ۳۰ میلیون دالر امریکایی گزارش شده بود. در این مدت، نه تنها اینکه معاملات بین این کشورها افزایش قابل توجه نیافته، بلکه کاهش تدریجی را نیز شاهد بوده که در این میان کاهش سال ۲۰۱۶ رقم قابل ملاحظه در قیمت مطلقه و بزرگترین درصدی را طی سه دهۀ اخیر نشان می‌دهد.

علاوه بر این، کارشناسان امور در امریکا معتقد اند، قروضی که از طرف بانک های پالیسی ساز چین ( بانک انکشاف زراعتی چین، بانک انکشافی چین و بانک صادرات و واردات چین) به امریکای لاتین اعطا گردیده نیز در سال ۲۰۱۶ به ۱۴ درصد کاهش یافته است. طبق اظهارات رئیس سازمان گفتگوی داخلی امریکا برای هماهنگی امریکای لاتین پروژه راه آهن برازیل - پیرو پس از اعلامیۀ سال ۲۰۱۵ در حال حاضر بنابر نگرانی های سیاسی و اقتصادی برازیل و کاهش حمایت سیاسی در پیرو، به تعلیق درآمده است.

آقای Carlos Casanova اقتصاددان هانکانگی در بانک Banco Bilbao Vizcaya Argentaria می گوید "در جریان سالهای که فزونی کالاها بود، کشورهای امریکای لاتین بسیار غیر فعال به نظر می‌رسیدند و به استثنای برخی نوآوری‌ها در بخش صادرات، دیگر کار مهمی را انجام ندادند".

وی افزود" که شما اصطلاح ( la fiesta se acabo) که به معنی خوشی‌ها به پایان رسید، می‌باشد را پیوسته خواهید شنید. من فکر می کنم امریکای لاتین به این حقیقت پی برده است که اقتصاد چین در حال ایجاد توازن بوده و آنها ضرورت دارند تا سبد صادراتی خویش را متنوع ساخته و شیوۀ معاملات تجارت به تجارت و سرمایه گذاری را تغییر دهد".

## گام بعدی در روابط میان چین و امریکای لاتین

اینکه در آینده روابط چین و امریکای لاتین چگونه خواهد بود، خانم Myers در این قسمت خوشبین به نظر می رسد. وی یک گزینۀ دیگری را به معلومات تحقیقاتی بخش قروض سازمان گفتگوی داخلی امریکا ارائه داشته که خود وی رهبری آنرا با دیگران بدوش داشته و قروض بانک‌های پالیسی ساز چین به دوایر دولتی امریکای لاتین یا تشبثات دولتی را مورد پیگیری قرار می‌دهد.

خانم Myers می گوید "ولو هر چه باشد، فراهم آوری سهولت های لازم در جهت میسر ساختن فرصت‌های قرضه دهی نشان دهندۀ علاقمندی چین به امریکای لاتین است. ما کمک‌های مالی میان بانک های پالیسی ساز چین و تشبثات دولتی امریکای لاتین را سنجش می کنیم که شامل یک بخش مشخص مجموع فعالیت های اقتصادی مختلف که واقعاً انجام یافته، می‌شود و با توجه به ارقام سال ۲۰۱۶ انتظار داشتم که این رقم با در نظرداشت سطح خطر در منطقه بگونۀ قابل ملاحظه کاهش بیابد"

خانم Myers موضوع ابتکارات قرضه دهی مختلف و سرمایه گذاری را که از طرف چین طرح گردیده و در صدد تنوع بخشیدن فعالیت‌های خویش در امریکای لاتین بوده، مورد غور و بررسی قرار می‌دهد. چین نه تنها بالای منافع سکتورهای سنتی چون استخراج معدن و زراعت تمرکز داشته، بلکه بالای سکتورهای بلند تکنالوژیکی چون قطارهای با سرعت زیاد که می تواند در شبکه‌های خط آهن منطقه ای مورد استفاده قرار گیرد، تمرکز دارد.

علاوه براین، اخیراً چین ارائۀ کمک های جدید که از طرف بانک انکشافی و بانک صادرات و واردات این کشور اعطا می گردد را اعلام داشته، ولی گفته است که ما چنین قروض را به کشورهای انفرادی در نظر نمی گیریم.▣

منبع: The Banker April 2017

برگردان: سید نور حسین میرزاد




# د اقتصادي ودې په موخه بيمې ته اړتيا

بيمه د احتمالي زيانونو په بدل کې ډاډ او ژمنه ده. يا په بل عبارت، بيمه د دوو خواو ترمنځ داسې يو تړون دی، چې په هغې کې يو لوری د بيمې شرکت او بل لوری بيمه کوونکی وي او بيمه کوونکي د بيمې کمپنۍ ته په مياشتنۍ موده کې ټاکل شوې اندازه پيسې ورکوي، په بدل کې شرکت له بيمه کوونکي سره ژمنه کوي چې هر کله د بيمه کوونکي مال او ځان ته د کومې پېښې له امله زيان واوړي، بيمې شرکت اړ دی چې له بيمه شوي کس سره بشپړه مرسته ترسره کړي.

په اوسنۍ نړۍ کې په ډېريو هېوادونو کې د ژوند د هر فعاليت او خوځښت لپاره په ځانګړي توګه د سوداګريو فعاليتونو د ښه پرمخ بيولو په موخه بيمې تړون يو اړين لامل دی، ځکه د نا ببره پېښو پرمهال د زيانونو جبران کول، ډېر ګران دي، په همدې بنسټ د نړۍ ډېرى هېوادونه د ژوند د بېلابېلو برخو لپاره بيمې شرکتونه جوړ کړي، چې د انسانانو د ژوند لپاره يې اسانتياوې رامنځته کړې دي.

د بيمې د کلمې معنی د څوارلسمې پيړۍ په لومړيو کې هغه مهال رامنځته شوه چې د سوداګرۍ توکي په سمندري بېړيو کې ليږدول کيدل، کله ناکله به چې د سوداګرو بېړۍ په سمندر کې ډوبه شوه ټوله شتمني به په اوبو لاهو شوه او




عابدالله بيدار

دافغانستان بانک د ټولو ناظر اداره

آډيټ سوپروايزر


سوداګرو به بيا سوداګري نشوه کولی، نو بيا د دې ستونزو د مخنيوي په موخه د بيمې شرکتونه رامنځته شول، ترڅو سوداګر له زيان څخه وژغورل شي او په

ډاډ منه توګه خپلې سوداګرۍ ته دوام ورکړي.

**بیمه د سوداګرۍ لپاره د انسانانو پر ژوند خورا ډېر اغیز لري چې په لاندې کرښو کې څېړل کیږي:**

- **د کاروبار لپاره د بیمې اړتیا:** کاروباري خلك په دوديز ډول د لرې پرتو سيمو او هېوادونو ترمنځ د توکو لیږد رالیږد ترسره کوي، چې له بېلابېلو زیانونو سره مخ وي، نو د بیمې په صورت کې ډیرۍ دغه زیانونه د بیمې شرکت ته لیږدول کیږي او سوداګر د سوداګرۍ له راپیښ شوي زیان څخه ډېر نه زیانمن کیږي.
- **د شتمنیو لپاره د بیمې اړتیا :** کور، هټۍ، موټر او نورو منقولو شتمنۍ پر وړاندې احتمالي ګواښونه شته، که چیرې دا شتمنۍ بیمه نشي، کیدلی شي د یوې پیښې په رامنځته کیدو سره ټول شتمنۍ له خاورو سره خاورې شي، خو د بیمې په صورت کې بیا لږ ترلږه د بیمې شرکت په خپل ځای وي چې شتمنۍ بیاځلي ترلاسه کیږي.
- **د روغتیا لپاره د بیمې اړتیا:** د انسانانو په ژوند باندې هیڅ اعتبار نشته او هیڅکله د دې معلومات نه کیږي چې انسان کله له څه ډول ناروغۍ سره مخ کیدلی شي، د بیمې په صورت کې ناروغ کولی شي د دنیا نورو هېوادونو ته هم ولیږدول شي او په نړیوالو روغتونونو کې خپله درملنه ترسره کړي.
- **د ژوند بیمې ته اړتیا:** دا په ډاګه نه ده چې انسان کله او کوم ځای کې له مرګ سره لاس او ګریوان کیږي، نو د بیمې په صورت کې د بیمه کونکي کورنۍ خوندي وي او د بیمه شوي کس له مرګ وروسته ماشومان یې خپلو زدکړو ته دوام ورکولی شي.

بیمه د انسان د ژوندانه ټول اړخونه رانغاړي، په دې مانا چې بیمه یوازې د سوداګرۍ لپاره نه ده، بلکې د انساني فعالیتونو ټولې برخې تر خپل سیورې لاندې راولي، په همدې بنسټ په هېواد کې د بیمې شرکتونو جوړول د اقتصادي، سیاسي او ټولنیز پرمختګ لامل ګرځي.

**د بیمې شرکتونو د ودې په موخه باید لاندې موضوعات په پام کې ونیول شي:**

١- د اقتصادي پرمختګ په موخه باید په هېواد کې د بیمې معیاري شرکتونه رامنځته شي.

٢ – بیمه د یو ټاکلي اندازې پیسو په بدل کې ترلاسه کیږي، د ا فغانستان اقتصادي وضعیت سره سم باید د بیمې شرکتونه خپل فعالیتونه برابر کړي.

٣ – د بیمې شرکتونه باید د افغانستان د خلکو د عقایدو او دود دستور په رڼا کې خپل فعالیتونه ترسره کړي.

۴ – د افغانستان اقتصادي حالت ته په کتو باید د نورو هېوادونو په څیر مرستندویه بیمې شرکتونه هم جوړ شي.

په تیرو څلورلسیزو کې د هېواد ډیرۍ بنسټونه له منځه تللي او د خلکو اعتماد او باور هم پرې لږ شوی دی، نو پکار ده چې د دې بنسټونو په اړه عامه پوهاوی ترسره شي څو بیاځلي د خلکو باور او اعتماد غښتلی شي.▣

# علل موفقیت کاری شرکت های بزرگ

موجودیت سیستم در یک شرکت مانند کشتی ای است که مدیر درآن نقش مهمی را ایفا میکند. در این کشتی رهنما و خدمهٔ همه با هم مشترکاً جهت رسیدن به منزل مقصود و هدف کار می نمایند و همه می دانند که کم کاری یکی از آنها می تواند باعث کاهش سرعت و یا غرق شدن کشتی گردد. به بیان دیگر، سرنوشت کشتی به سرنوشت تمام رهنما و خدمهٔ آن تعلق دارد، بناءً لازم است تا تمامی سرنشینان کشتی، مدیر را از تهدید های پیش رو آگاه ساخته و با استفاده از فرصت، همکار و بازوی توانای آن باشند.

این هم واقعیت دارد که قدرت یک ماشین یا یک دستگاه، بیشتر اوقات در ضعیف ترین حلقهٔ زنجیر آن نهفته است. مدیر موفق آن ماشین یا دستگاه و یا سازمان کسی است که ضعیف ترین حلقهٔ زنجیز را در این ماشین تشخیص داده و همیشه از آن مراقبت نماید.

پس از انقلاب صنعتی، علم مدیریت به عنوان یک رشتهٔ علمی عرض اندام نمود و از آن زمان تا اکنون مدیران به دنبال پیاده سازی سیستم بهتر مدیریت در شرکت ها و مؤسسات می باشند که بر اساس آن امروز میتولوژی های فراوانی برای پیاده نمودن یک سیستم جامع در تمام نهاد ها وجود دارد، که می توان از مهمترین آنها Work System و Enterprises System نام برد.

شرکت DELL که در بخش تولید کمپیوتر فعالیت دارد، حد اکثر زمانی که کالاهای این شرکت در گدام می ماند، چهار ثانیه است و این زمان کم فقط بخاطر ثبت و خروج کالاها از گدام این شرکت می باشد. این شرکت با پیاده سازی سیستم مصارف اداری گدام های خود را به صفر رسانیده و بر اساس آن توانسته است که اغلب بازار های کمپیوتر جهان را از آن خود نماید.

در مقابل، شرکت های تویوتا و زیمنس از سیستم انترپرایزیس استفاده می نمایند که اجزای آن را برنامه ریزی درست منابع مواد اولیه، نیروی انسانی، ماشین آلات، طی مراحل تهیهٔ مواد اولیه و توزیع آن به مصرف کنندگان، یک پارچه سازی تمام سیستم های داخل شرکت، کاهش موجودی در گدام ها، مدیریت دانش،

»



مهارت های تجارتی، موفقیت ها در بازار های رقابتی و ... تشکیل میدهند.

در دنیای پُر رقابت امروزی، نیروی انسانی و کار گروپی نقش کلیدی را در حیات شرکت ها دارند، در صورت عدم موجودیت این دو عنصر اساسی در شرکت ها به مشکلات زیاد روبرو می شوند که از جمله می توان به کاهش سطح کیفیت خدمات به مشتریان، فرار کارکنان از کار، بی تفاوتی در کار ها، عدم توجه به نو آوری و خلاقیت اشاره نمود.

در چنین حالت، ممکن است که در یک شرکت یک فرد نهایت تلاش بخرج دهد، ولی این کوشش اگر گروپی و سازمان یافته نباشد، باعث افزایش باز دهی شرکت نمی گردد. برای گذار از مدیریت سنتی و حفظ بقای یک شرکت، مدیران آن باید در روش های مدیریتی خود تغییرات ژرف و اساسی ایجاد نمایند، زیرا همه مسایل مورد بحث در شرکت ها به نوعی به نیروی انسانی بر می گردد.

یکی از موضوعات مهم در رقابت و کسب سود بیشتر و مستمر توجه فزایندۀ مدیران به منابع انسانی بوده که سرمایه های اصلی و ستون شرکت ها می باشند. به گفته ماتسوشیتا بنیان گذار صنعت الکترونیک در جاپان " نخست انسان سپس کالا".

دیوید مایستر عضو دیپارتمنت کسب و کار پوهنتون هارورد به عنوان مشاور شرکت های حرفه ای خدماتی در این زمینه می گوید "نقش مدیران مهمترین موضوع و عامل اصلی در ایجاد انگیزه در وجود کارمندان است". او همچنان می گوید "رفتار مدیران باید به گونه ای باشد که گویی آنها عضو تیم هستند، نه اینکه مدیر"، او همچنان می افزاید مدیران باید فاصله ای عاطفی میان خود و نیروی انسانی تحت امر خود را کم نمایند.

موفقیت یک شرکت زمانی فراهم می گردد که مدیران در شرکت ها نیروی انسانی را به مواردی چون تسلط و آشنایی به وظیفه، داشتن پشت کار، مسئولیت پذیری و علاقمندی به کار، مشارکت در کار، خود را تحت نظارت قرار دادن، ایجاد نو آوری، داشتن روابط حسنه با همکاران و دقت به کارها تشویق نمایند.

در مقابل، از عواملی که سبب بی انگیزگی ( عدم شایسته سالاری، برخورد گزینشی با افراد متخصص، نبود نظارت از کارها، ایجاد رقابت ناسالم میان کارکنان و بی اطلاعی کارکنان از نتایج کار و عملکرد شان) کارکنان شرکت ها در امور محوله میشوند، جلو گیری نمایند.

در پایان می توان گفت که یک مدیر با ابتکار در یک شرکت راهکار های خوبی چون دادن پاداش، ارزیابی عملکردها، خلاقیت و نوآوری، افزایش دانش کارکنان، زیبایی محل کار و شایسته سالاری را جهت ایجاد انگیزه میان کارکنان روی دست گیرد.

گاه گاهی دیده شده است که در بعضی شرکت ها با تعویض یک مدیر، سیستم شرکت کاملاً تغییر نموده و دست آوردهای قبلی کاملاً از بین می رود و اکثر مدیران جدید نمی توانند دست آوردهای مدیر قبلی را تعقیب نمایند که در این صورت اینگونه شرکت ها به مرور زمان ورشکسته شده و از بین می روند.▣

عبدالحفیظ شاهین

منابع:


1. http://midan.aljazeera.net / عنوان – استراتیجیات مفصلیه فی تاریخ شرکات عملاقه / نویسنده :
2. محمد الجاویش / تاریخ ۲۸/۳ / ۲۰۱۷– مکه مکرمه
3. Almasdaronlin.com/article/91770 / عنوان – ۴ اشیاء یحتاج قاده الشرکات الناشئه و معرفتها عن برامج التسریع / المصدر اونلاین / الثلثاء – ۶ یونیو / ۲۰۱۷ – ۱۰:۲۳.۵۸ مساء
4. https//:www.sasapost.com / لماذا تفشل الشرکات الناشئه / احمد بدرالدین – ۳/۳/۲۰۱۶

# نقش تکنالوژی و فناوری های نوین در اقتصاد



اقتصاد جهان اخیراً با پیشرفت تکنالوژی و ارتباطات یک تغییر ساختاری را تجربه نموده است و ابزار تکنالوژی نوین، تخنیک های فراختر و جذابی را در اختیار ما قرار داده است که توسط آن جغرافیای ثروت شکل جدیدی را به خود گرفته است. اقتصاد نوینی که کمپیوتر ها، شبکه ها و پایگاه های اطلاعاتی هر لحظه در آن در حال گسترش است، شکل کالاها و خدمات نیز با آن در حالت تغییر و پیشرفت می باشد.

این نظام با تحول اساسی و بنیادین خود سیستم های اقتصادی جامعه را به سوی بهبود و تحول بنیادی حرکت می دهد. اگر سیستم های اقتصادی کشورها بر طبق قوانین آن حرکت نمایند، پیشرفت های زیادی را تجربه خواهند نمود. این گونه اقتصاد جهانی معطوف به اشیای غیر ملموس بوده و با هم در ارتباط می باشد. امروز اطلاعات در نقطه ای قرار دارد که به شکل فراگیر در همه جا از آن استفاده می شود و در حال حاضر کشور های زودتر به خود کفایی می رسند که در زمینه تکنالوژی، اطلاعات و ارتباطات خود کفا باشند.

اقتصاد اطلاعاتی عبارت از اقتصاد دانش محور، دیجیتلی و یا انترنتی است که بنابر تحولات اقتصادی از سال ۱۹۶۰میلادی تا اکنون مورد استفاده قرار میگیرد. این نوع اقتصاد در کلیه مولفه های اقتصادی، چون محصولات، مصرف کننده کننده گان، فروشنده گان، بازار، وسایط، محصولات اطلاعاتی مانند مقالات تحقیقاتی، اطلاعات تصویری نظیر عکس ها، کارت ها، تقویم ها، نقشه ها، نوار های صوتی، موسیقی، برنامه های تلویزیونی، وقایع ورزشی، موضوعات تجارتی، انعقاد قرارداد، آموزش از راه دور و ... موجود می باشد.

با بوجود آمدن شبکه های ارتباطی مانند انترنت و ماهواره و گسترش آنها، مرز ها روز بروز کوچکتر شده و شرایط کسب و کار و درآمد بیش از پیش فراهم گردیده است. در حال حاضر و از مردم با استفاده از وسایل تکنالوژی معلوماتی و فناوری های نوین میتوانند با دور افتاده ترین نقاط دنیا ارتباط بر قرار نمایند و بخصوص در شرایط حاضر که آگاهی از شاخص بورس برای بسیاری ها خیلی مهم و حیاتی است، زیرا با دریافت اطلاعات به موقع،

مردم می توانند اقدام به خرید و یا فروش سهام خود نمایند و از این راه کسب درآمد کنند. این شیوه تنها از طریق اطلاع رسانی سریع و به موقع به وسیله تکنالوژی معلوماتی می تواند فراهم شود. به این وسیله شخص میتواند از محل سکونت خود اقدام به خرید و یا فروش اوراق بهادار خود نموده و یا هم اطلاعات به موقع خود را به بخش های دیگر از نقاط جهان برساند.

یکی از شاخص های مهمی که می توان برای سنجش موفقیت های توسعه ای تکنالوژی معلوماتی بر شمرد در آمد سرانه شهروندان یک کشور است، بطور نمونه اگر میزان درآمد سرانه دو کشور سنگاپور و امریکا را مورد بر رسی قرار دهیم، بر اساس آمار های جهانی در سال ۲۰۰۶ میلادی درآمد سرانه سنگاپور معادل ۴۳۳۰۰ دالر و امریکا معادل ۴۴۰۷ دالر بود، اما در سال ۲۰۰۷ میلادی درآمد سرانه امریکا ۴۶۰۰۰ دالر و از سنگاپور ۴۸۹۰۰ دالر شد که در این سال در واقع شهروندان سنگاپور نسبت به شهروندان امریکایی ثروتمند تر شده اند. این در حالی است که سنگاپور بزرگترین صادر کننده تجهیزات کمپیوتری در این سال بوده و از این طریق در آمد خوبی را نصیب شده است و مردم آن نیز از بهترین دانش در بخش کمپیوتر بهره مند می باشند.

در گذشته، فراگیری دانش توسعه ای از طریق ارتباط مستقیم با فراگیران به (گونهٔ متقابل یا شاگردی/ استادی) منتقل می شد، که با محدودیت ها و هزینه های زیادی مواجه بود، اما امروز با گسترش تکنالوژی معلوماتی کسب دانش با هزینه ها فرصتی های کمتر قابل دسترس می باشد. در تکنالوژی جدید هدف هوشمند ساختن مشتری است و برندهٔ واقعی در اقتصاد جدید کسی یا شرکتی است که مشتریان هوشمند دارد.

منابع پولی و سرمایه در عصر صنعتی، نزد چند فرد سرمایه گذار و چند بانک قرار داشت، اما حالا پول و سرمایه به میلیون ها حساب در سراسر جامعه تقسیم و تجزیه گردیده است. در گذشته بانک‌ها دارایی های خود را وام می دادند، از این وام ها صنعت به میان می آمد و از آن به گونهٔ نفع می بردند، اما با به میان آمدن دانش و ارتباطات، سرمایه گذاران دریافتند که سرمایه گذارانی که از اطلاعات بیشتر بهره مند هستند، ثروت بیشتری را از آن خود ساخته اند.

تکنالوژی و ارتباطات بجای وام دادن، فرهنگ سهام را ترویج می کند. در این سیستم ثروت ایجاد شده سبب بهبودی اقتصاد دیگران نیز گردیده و عدالت تأمین می گردد، امروز نگهداری حساب ها و نقل و انتقال ثروت توسط محاسبات کمپیوتری و ارتباطات فاصله های بسیار دور را نزدیک ساخته و میلیون ها رشتهٔ سرمایه گذاری در پرتو این سیستم ایجاد گردیده است.

منابع:


1. http://article.irna.ir
2. www.accpress.com
3. www.civilica.com

د افغانستان بانک

# د افغانستان بانک خبرتیا!

**د افغانستان بانک ګرانو هېوادوالو ته خبر ورکوي چې د افغانستان بانک د قانون د ۳۹ مادې پر بنسټ، هغه بانکنوټونه چې:**

**پر مخ یې لیکل او نقاشي شوي وي**




**مهر یا پرله پسې سوري شوي وي**




**وینځل شوي او یا د تیزاب او نورو کیمیاوي موادو له امله خراب شوي وي**



**پر مخ یې سریښناکه مواد کارول شوي وي**



**د افغانستان بانک او د سوداګریزو بانکونو په ټولو نمایندهګیو کې پرته له کوم فیس د کارونې وړ بانکنوټونو باندې بدل کړي.**

**د افغانستان بانک د ۱۳۹۶ لمریز کال د زمري له ۳۱ نېټې وروسته د پورته ځانګړتیاوو درلودونکي بانکنوټونه له معاوضې پرته مصادره کوي.**

**مهم یادداښت:** هغه بانکنوټونه چې د کارونې له امله زاړه او اسکاشټیپ شوي وي د ګردښت وړ دي.

**افغانی؛ زمونږ د ویاړ، ځواک او د ملي هویت نښه ده!**

۰۲۰۲۱۰۲۲۰۷
۰۲۰۲۱۰۲۲۰۹

# بانک

ماهنامهٔ د افغانستان بانک

سال یازدهم شماره ۱۲۱، سرطان ۱۳۹۶

د افغانستان بانک




**ګرانو هېوادوالو! زمونږ د هېواد پولي واحد، افغانۍ دي**